درویش وردک

۱۷ اپریل ۲۰۱۵

## گوندونه شول غالب

گوندونه شول غالب، له دی غمه ژړیږم

راته وران می ګران هیواد شو، افغان غریب برباد شو

له دی غمه ژړیږم ، ګوندونه شول غالب

څوک ولاړل وهابیان شول، ځینی نور خو اخوانیان شو

خلکیان اوپرچمیان خولا پخوا و دپردی نغری بچیان

دوی خوارشول پخپل خان

نوبت خو دملا دی ، دی سرپه واویلادی

دچوکی له غمه مړ دی هڅوی خوشی خوارطالب

ګوندونه شول غالب

له دی غمه ژړیږم

راته وران می خوږهیواد شو، افغان غریب بربادشو

دسره ښامارترخیته راته ورانی کروندی شوی، هم شاړی مومیری شوی

ناتوچی کله راغی نوپاش پاش یی فاسفورس کړ

راته مرمویی  ماشوم دمورپه نس کړ

اوس غواړی مالبنکر کړی، په بخارا اونیشاپورمی وربرابرکړی

جنوب په اورستی و، اوس نوبت خو دشمال دی

دغه پلان خو ددجال دی

محقق او عبدالله ، خلیلی اوهرملا، دوستم او احمدضیاء

دوی ټول لاس په نامه سترګی په لاردخپل جانان

ګلبدین دی راروان

ع او غ په غوغاشول، د سامراج په زور پخلاشول

راحیل ورته راوړی ډیر پلانونه دچړی او دطالب

گوندونه شول غالب، له دی غمه ژړیږم

جنوب خوتورکودی و، اوس نوبت می دشمال شو

افغان غریب بربادشو